# یوسف

**مکی سورة دی ۱۱۱ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

الٓر ۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿١﴾

**الف، لام، را.( په حقیقی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی) دا( چې اوس تاته لوستل کیږی) د یوه واضح کتاب آیتونه دی(هغه کتاب چې د الله تعالی له لوری نازل شوی او احکام او موعظی یې کاملاً روښانه دی) .**

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿٢﴾

**موږ دغه قرآن په عربی ژبه نازل کړ ترڅو یې تاسو( د لومړنیو مخاطبینو په حیث، د حقایقو، مفاهیمو، اشاراتو او باریکیو په باب)ښه پوه شئ (او بیا یې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوئ).**

نَحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ أَحۡسَنَ ٱلۡقَصَصِ بِمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ هَٰذَا
ٱلۡقُرۡءَانَ وَإِن كُنتَ مِن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ﴿٣﴾

**ای پیغمبره! موږ د دې (قرآن) د وحې په ترڅ کې، ترټولو بهترین داستان تاته اوروو، چې له ترې پخوا بیخی خبر نه وې.**

إِذۡ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي رَأَيۡتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوۡكَبًا وَٱلشَّمۡسَ
وَٱلۡقَمَرَ رَأَيۡتُهُمۡ لِي سَٰجِدِينَ ﴿٤﴾

**(او هغه دا چې) کله یوسف خپل پلار( یعقوب) ته وویل: ای زما پلاره! په خوب کې مې ولیدل چې یولس ستوری او لمر او سپوږمی راته په سجده پراته دی.**

قَالَ يَٰبُنَيَّ لَا تَقۡصُصۡ رُءۡيَاكَ عَلَىٰٓ إِخۡوَتِكَ فَيَكِيدُواْ لَكَ كَيۡدًاۖ إِنَّ
ٱلشَّيۡطَٰنَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿٥﴾

**پلار یې وویل: زما زویه پام چې خوب دی ورونو ته بیان نه کړې( ځکه د خوب معنی څرګنده ده. یولس ستوری، ستا یولس ورونه دی . لمر او سپوږمی دې پلار او مور دی چې کوم وخت به ستا عظمت ته د احترام**

سرونه تيټوی) هسې نه چې ورونه دې( لا اوس) کومه دسيسه درته جوړه کړی، ځکه شيطان د انسان ښکاره دښمن دی( او کيدی شی ستا ورونه ستا په ضد راوپاروی).

وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ وَعَلَىٰٓ ءَالِ يَعْقُوبَ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيْكَ مِن قَبْلُ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٦﴾

او رب دې تاته په دی خوب سره خاص امتياز درکړی او د تأويل الاحاديث په علم سره به دې هم سرلوړی کړی( چې د مسائلو حل وفصل او په عواقبو يې پوهيدل ،د خوبونو تعبيرول، د الهی ارشاداتو او انبياو د هداياتو پوهه او د تيرو امتونو تاريخ پوهنه ټول پکې شامل دی)او په تا او د يعقوب په ټوله کورنۍ به خپل نعمتونه ولوروی، لکه څنګه چې يې ستا د پخوانيو پلرونو(اجدادو) ابراهيم او اسحاق په برخه کړی وو، بيشکه چې ستا رب( په ټولو چارو) پوه او د حکمت څښتن ذات دی (او هر کار او اقدام يې په تدبير او له مصلحت سره سم دی).

۞ لَّقَدْ كَانَ فِى يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِۦٓ ءَايَٰتٌ لِّلسَّآئِلِينَ ﴿٧﴾

بی له شکه د يوسف او د هغه د ورونو په داستان کې د ډيرونکو او پوښتونکو لپاره( د الله تعالی د ربوبيت، رحمت او مهربانۍ) څرګندې نښې پرتې دی( له خلکو سره دا پوښتنه پيدا وه چې ابراهيم عليه السلام او زامن يې خو په شام کې اوسيدل څنګه بيا مصر ته ورسيدل، نو ځکه دا کيسه په تفصيل سره بيان شوه چې له شام نه مصر ته د اسرائيل يعنی يعقوب عليه السلام او د ده د اولادی انتقال، د يوسف عليه السلام نه پيل شوی چې بيا يې نسل په مصر کې خپور شو، تر دې چې موسی عليه السلام پکې راپيدا او دوی يې د فرعون له مظالمو خلاص کړل).

إِذْ قَالُوا۟ لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰٓ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٨﴾

کله چې يې( ورونو پخپل منځ کې يو بل ته) وويل: غښتلی او پياوړې ډله مونږ يو، او پلار ته مو يوسف او د هغه ورور ډير نږدې او د قدر وړ دی. ښکاره ده چې پلار مو په غلطه لار روان دی.

ٱقْتُلُوا۟ يُوسُفَ أَوِ ٱطْرَحُوهُ أَرْضًا يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ وَتَكُونُوا۟ مِنۢ بَعْدِهِۦ قَوْمًا صَٰلِحِينَ ﴿٩﴾

راځئ یوسف ووژنئ او یا یې په کوم لیرې ځای کې وغورزوئ، ترڅو مو د پلار مینه او پاملرنه یوازې تاسوته راواوړي او بیا به( الله تعالی ته توبه وباسئ او) نیک انسانان به شئ.

قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُواْ يُوسُفَ وَأَلْقُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ ٱلسَّيَّارَةِ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ١٠

بل تن یې وویل: که خامخا (یې په ضد) څه کول غواړئ نو یوسف وژنئ مه، کومې ژورې څاه ته یې وغورزوئ چې لاروی مسافر یې راپورته( او له ځان سره یوسی).

قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأْمَ۫نَّا عَلَىٰ يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُۥ لَنَٰصِحُونَ ١١

تولو پلار ته وویل: ابا، څه وجه ده چې د یوسف په حقله په مونږ اعتماد نه کوې، مونږ خو د هغه خیرخواهان یو.

أَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ١٢

سبا یې زمونږ سره ( صحرا ته) واستوه چې لوبې او ساعت تیری وکړی او میوې وخوری. ساتنه او څارنه یې په مونږ ده.

قَالَ إِنِّي لَيَحْزُنُنِيٓ أَن تَذْهَبُواْ بِهِۦ وَأَخَافُ أَن يَأْكُلَهُ ٱلذِّئْبُ وَأَنتُمْ عَنْهُ غَٰفِلُونَ ١٣

پلار یې وویل:که درسره لاړ شی زړه به مې ناآرامه وی، ویریږم( وړوکی هلک دی) هسی نه چې لیوه یې وخوری او تاسو ترې خبر هم نشئ.

قَالُواْ لَئِنْ أَكَلَهُ ٱلذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّآ إِذًا لَّخَٰسِرُونَ ١٤

هغوی وویل: که زمونږ په دې پیاوړې ډله کې راڅخه هغه لیوه وخوری نو بیا خو به مونږ یوه بدبخته او بې ارزښته ډله یو.

فَلَمَّا ذَهَبُوا۟ بِهِۦ وَأَجْمَعُوٓا۟ أَن يَجْعَلُوهُ فِى غَيَٰبَتِ ٱلْجُبِّ ۚ وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ
لَتُنَبِّئَنَّهُم بِأَمْرِهِمْ هَٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ١٥

**او چې کله یې هغه بوته او اراده یې وکړه چې ژورې څاه ته یې وغورزوی، مونږ هغه ته الهام ( یا وحی) وکړه چې( مه خفه کیږه) یو وخت به ته، دوی خپل دی عمل ته متوجه کړې او دوی به نه پوهیږی( چې ته یوسف یې).**

وَجَآءُوٓ أَبَاهُمْ عِشَآءً يَبْكُونَ ١٦

**او ماسختن مهال په چیغو چیغو پلار ته راغلل.**

قَالُوا۟ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَٰعِنَا
فَأَكَلَهُ ٱلذِّئْبُ ۖ وَمَآ أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صَٰدِقِينَ ١٧

**ویل یې: ای پلاره! مونږ( په ځغاسته او غشو ویشتو کې) پخپل منځی مسابقه بوخت وو او یوسف مو د خپلو کالیو او اسبابو تر څنګ پری ایښی و، او چې کله مو پام شو نو لیوه خوړلی و . ستا به باور نشی خو مونږ درته ربښتیا وایو.**

وَجَآءُو عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٍ كَذِبٍ ۚ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ
فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ وَٱللَّهُ ٱلْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ١٨

**او په جعلی وینو لړلی د هغه کمیس یې ورته هم راووړ( ترڅو پلار د یوسف په مړینه باوری کړی) خو هغه ورته وویل:( باور مې نشی چې ربښتیا وایاست) بلکه یو بد او ناوړه عمل درته خپلو نفسونو په نظر کې ښه ښکاره کړی، خو زما لپاره مناسبه لار، نیک صبر دی. ستاسو د خبرو په مقابل کې به، یوازې له الله تعالی څخه مرسته غواړم.**

وَجَآءَتۡ سَيَّارَةٞ فَأَرۡسَلُواْ وَارِدَهُمۡ فَأَدۡلَىٰ دَلۡوَهُۥۖ قَالَ يَٰبُشۡرَىٰ هَٰذَا غُلَٰمٞۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ١٩

او يو كاروان راغى او خپل سقاو يې( د اوبو راوړلو لپاره) واستاوه. همدا چې بوكه يې ځاه ته وغورځوله ( له خوښۍ يې) چيغه كړه: مبارک مو شه. ماشوم مى وموند، او بيا يې هغه پخپلو منځو كې د تجارتى متاع په حيث( د خرڅلاو لپاره) پټ وساته او الله تعالى د دوى په ټولو كړنو ډير ښه خبر و.

وَشَرَوۡهُ بِثَمَنِۢ بَخۡسٖ دَرَٰهِمَ مَعۡدُودَةٖ وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ٢٠

او دا چې هغه ته يې كوم خاص ارزښت نه وركاوه نو په ډيره لږه بيه فقط په څو درهمه يې وپلوره.

وَقَالَ ٱلَّذِي ٱشۡتَرَىٰهُ مِن مِّصۡرَ لِٱمۡرَأَتِهِۦٓ أَكۡرِمِي مَثۡوَىٰهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوۡ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدٗاۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلِنُعَلِّمَهُۥ مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِۦ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٢١

او هغه مصرى سړى( عزيز) چې يوسف يې په( عمومى ليلام كې) په بيه واخست، خپلې ميرمنې ته وويل: ده ته د ډير قدر او عزت مقام وركړه، هيله مې داده چې مونږ ته به يې ډيره ګټه ورسى او يا به يې په زوى والئ ونيسو. په دې توګه مونږ يوسف ته د مصر په ځمكه كې عزت وركړ( تر څو يې د رهبرى او حكومت لپاره زمينه برابره شى د مسائلو د حل وفصل او خوبونو د تعبير يعنې) تأويل الاحاديث پوهه ورته وركړو. او الله تعالى پخپلو چارو او اقداماتو پوره برلاسى دى خو زياتره خلک نه پوهيږى.

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥٓ ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمٗا وَعِلۡمٗاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٢٢

او بيا چې( يوسف) د رشد او كمال عمر ته ورسيد، حكمت او پوهه مو ورته وركړه او ټولو نيكوكارانو ته همدا ډول اجر وركوو.

وَرَٰوَدَتۡهُ ٱلَّتِي هُوَ فِي بَيۡتِهَا عَن نَّفۡسِهِۦ وَغَلَّقَتِ ٱلۡأَبۡوَٰبَ وَقَالَتۡ
هَيۡتَ لَكَۚ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَۖ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ
ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾

**او هغې ښځې چې یوسف يې په کور کې اوسیده، له ده نه د مینې غوښتنه وکړه( او په مناسب فرصت کې يې) د قصر ټولې دروازې بندې کړې او ده ته يې وويل: راوړاندې شه( زه ستا په خدمت کې یم). یوسف وویل: الله تعالی ته پناه وړم، هغه زما رب دی او ماته يې ډیر ښه مقام راکړی( زه هیڅکله له خپل رب سره خیانت نه کوم). ظالمان هیڅکله هم نیکمرغۍ او کامیابۍ ته نشی رسیدی.**

وَلَقَدۡ هَمَّتۡ بِهِۦۖ وَهَمَّ بِهَا لَوۡلَآ أَن رَّءَا بُرۡهَٰنَ رَبِّهِۦۚ كَذَٰلِكَ
لِنَصۡرِفَ عَنۡهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلۡفَحۡشَآءَۚ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٢٤﴾

**د قصر میرمن د یوسف په لوری وروړاندې شوه او هغه به هم وروړاندې شوی وای خو که( د خپل سپیڅلی ضمیر په لوحه يې) د خپل رب برهان( معاذ الله انه ربی احسن مثوای انه لایفلح الظالمون) نه وی لیدلی. په دې توګه مو یوسف له ناوړه عمل او فحاشۍ نه وژغوره. بیشکه چې هغه زمونږ مخلص بنده( او له هر ډول ظاهری او باطنی مفاسدو او فواحشو نه) پاک شخصیت و.**

وَٱسۡتَبَقَا ٱلۡبَابَ وَقَدَّتۡ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٖ وَأَلۡفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا
ٱلۡبَابِۚ قَالَتۡ مَا جَزَآءُ مَنۡ أَرَادَ بِأَهۡلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسۡجَنَ أَوۡ عَذَابٌ
أَلِيمٞ ﴿٢٥﴾

**او دواړو د قصر د دروازې په لور منډه کړه( یوسف د خپل نجات لپاره او ښځې د هغه د نیولو لپاره) د هغه د کمیس شاتنۍ لمنې( ته لاس واچاوه او) څیرې يې کړه او( په همدې کش و ګیر کې) له خپل څښتن سره په دروازه کې مخامخ شوه. ورته يې وويل: څوک چې ستا ناموس ته د بې عزتۍ اراده لری، جزا يې له زندان او دردوونکی عذاب نه، بل څه کیدی شی؟**

قَالَ هِيَ رَٰوَدَتۡنِي عَن نَّفۡسِيۚ وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۡ أَهۡلِهَآ إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٖ فَصَدَقَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٢٦﴾

**یوسف وویل: همدې له ما، ناروا غوښتنه وکړه( او اوس پړه هم په ما راچوی). او د میرمن د کورنی یوه گواه( د دواړو ادعاو ترمنځ داسي)قضاوت وکړ چې که د یوسف د کمیس مخکینی لمن څیرې شوی وی نو میرمن رښتیني ده او یوسف دروغجن دی.**

وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٖ فَكَذَبَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٧﴾

**او که د هغه کمیس د شا له خوا څیرې شوی وی نو بیا خو میرمن دروغ وایی او یوسف رښتینی دی.**

فَلَمَّا رَءَا قَمِيصَهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٖ قَالَ إِنَّهُۥ مِن كَيۡدِكُنَّۖ إِنَّ كَيۡدَكُنَّ عَظِيمٞ ﴿٢٨﴾

**( د مصر عزیز) چې ولیدل د یوسف کمیس د شا له خوا څیرې شوی نو ښځې ته یې وویل: دا ستاسو( ښځو) مکر او حیلې دی او رښتیا چې د ښځو مکرونه او دسیسی ډیرې لویې دی.**

يُوسُفُ أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَاۚ وَٱسۡتَغۡفِرِي لِذَنۢبِكِۖ إِنَّكِ كُنتِ مِنَ ٱلۡخَاطِـِٔينَ ﴿٢٩﴾

**ای یوسفه! له دې پیښې تیر شه او(ای میرمنې!) ته د خپلې گناه ښښنه وغواړه( ثابته شوه) چې همدا ته گناهکاره یې.**

۞ وَقَالَ نِسۡوَةٞ فِي ٱلۡمَدِينَةِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ تُرَٰوِدُ فَتَىٰهَا عَن نَّفۡسِهِۦۖ قَدۡ شَغَفَهَا حُبًّاۖ إِنَّا لَنَرَىٰهَا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٣٠﴾

**او یوې ډلې ښځو په ښار کې دا خبره ډنډوره کړه چې د مصر د عزیز میرمنې پخپل غلام زړه بایللی او له هغه نه یې ناروا غوښتنه کړې، مونږ یې وینو چې په بده لار روانه ده.**

فَلَمَّا سَمِعَتۡ بِمَكۡرِهِنَّ أَرۡسَلَتۡ إِلَيۡهِنَّ وَأَعۡتَدَتۡ لَهُنَّ مُتَّكَـٔٗا وَءَاتَتۡ كُلَّ
وَٰحِدَةٖ مِّنۡهُنَّ سِكِّينٗا وَقَالَتِ ٱخۡرُجۡ عَلَيۡهِنَّۖ فَلَمَّا رَأَيۡنَهُۥٓ أَكۡبَرۡنَهُۥ وَقَطَّعۡنَ
أَيۡدِيَهُنَّ وَقُلۡنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا مَلَكٞ كَرِيمٞ ﴿٣١﴾

**کله چې د قصر میرمن د هغوی له مکر نه ډکې خبرې واوریدې، خپلې ماڼۍ ته یې راوبللې او مجلله میلمستیا یې ورته جوړه کړه. هرې یوې ته یې( د میوې د خوړلو لپاره) چاړه ورکړه او یوسف ته یې امر وکړ چې د هغوی مجلس ته ورننوزی. همدا چې د ښځو سترګې په یوسف ولګیدې، عظمت( او ښکلا) ته یې هک پک او حیرانې شوې( او د تعجب د شدت له امله یې لاسونه تر دې حده ولرزیدل چې د میوو په ځای یې) خپل لاسونه پریکړل او ویې ویل: حاش لله چې دا دې بشر وی، بلکه دا خو یوه بزرګواره پرښته ده.**

قَالَتۡ فَذَٰلِكُنَّ ٱلَّذِي لُمۡتُنَّنِي فِيهِۖ وَلَقَدۡ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ فَٱسۡتَعۡصَمَۖ
وَلَئِن لَّمۡ يَفۡعَلۡ مَآ ءَامُرُهُۥ لَيُسۡجَنَنَّ وَلَيَكُونٗا مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿٣٢﴾

**لومړۍ میرمنې وویل: دا هماغه دی چې تاسو یې( په مینه)ما ملامتوۍ. رښتیا چې ما له هغه نه د مینې هیله کړې خو هغه زما هیله په شدت سره رد کړه. اوس هم که هغه زما امر ونه منی ، خوار او ذلیل به په زندان کې پریوزی.**

قَالَ رَبِّ ٱلسِّجۡنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِۖ وَإِلَّا تَصۡرِفۡ عَنِّي
كَيۡدَهُنَّ أَصۡبُ إِلَيۡهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٣٣﴾

**یوسف وویل: ای زما ربه! زندان ته تګ راته له هغه عمل نه ډیر غوره دی چې دوی ورته ما هڅوی او که ته د دوی مکر او فریب، له ما دفع نه کړې، زه به هم دوی ته میلان پیدا کړم او د ناپوهانو او جاهلانو په کتار کې به شمار شم.**

فَٱسۡتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ فَصَرَفَ عَنۡهُ كَيۡدَهُنَّۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٣٤﴾

**نو رب یې دعا قبوله کړه او د ښځو مکر او چلوټې یې له هغه نه په شا وتمبولې.**

ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا رَأَوُاْ ٱلۡأٓيَٰتِ لَيَسۡجُنُنَّهُۥ حَتَّىٰ حِينٖ ﴿٣٥﴾

( سره له دې چې د یوسف د پاکۍ او بې ګناهۍ) شواهد ټولو ولیدل( خو د مصر حکومتی چارواکو د موضوع د پټولو لپاره) هغه د څه مودې لپاره زندان ته واچاوه.

وَدَخَلَ مَعَهُ ٱلسِّجۡنَ فَتَيَانِۖ قَالَ أَحَدُهُمَآ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَعۡصِرُ خَمۡرٗاۖ
وَقَالَ ٱلۡأٓخَرُ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَحۡمِلُ فَوۡقَ رَأۡسِي خُبۡزٗا تَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِنۡهُۖ
نَبِّئۡنَا بِتَأۡوِيلِهِۦٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٣٦

او دوه نور ځوانان هم چې له هغه سره یو ځای د زندان د تمبو شاته شوی وو، یوه یې( یوسف ته) وویل: پرله پسې په خوب کې وینم چې د شرابو (لپاره) انګور زبیښم. او بل تن یې وویل: زه په خوب کې وینم چې په سر مې ډوډۍ پرتې دی او مرغان یې ترې خوری.( ای یوسفه!) مونږ ته دغه خوبونه تعبیر کړه ځکه مونږ تاته د نیک انسان په حیث قایل یو.

قَالَ لَا يَأۡتِيكُمَا طَعَامٞ تُرۡزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأۡتُكُمَا بِتَأۡوِيلِهِۦ قَبۡلَ أَن يَأۡتِيَكُمَاۚ
ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّيٓۚ إِنِّي تَرَكۡتُ مِلَّةَ قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم
بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ٣٧

( یوسف) وویل: د خوړو له رارسیدو نه وړاندې به درته دغه خوبونه تعبیر کړم. دا هغه علم دی چې الله تعالی ورباندې زه پوه کړی یم ځکه ما د هغو خلکو دین او قانون پری ایښی چې په الله تعالی ایمان نه لری او له آخرته هم منکر دی.

وَٱتَّبَعۡتُ مِلَّةَ ءَابَآءِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۚ مَا كَانَ لَنَآ أَن
نُّشۡرِكَ بِٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ عَلَيۡنَا وَعَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ٣٨

او د خپلو پلرونو نیکونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب د دین او قانون پیروی کوم او زمونږ لپاره مناسبه نه ده چې له الله تعالی سره نور شیان په خدایۍ کې شریک کړو. دا( د الله تعالی په وحدانیت باندې عقیده) په مونږ او ټولو خلکو باندې د الله تعالی ځانګړې مهرباني او لورینه ده خو زیاتره خلک یې شکر نه په ځای کوی.

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ
ٱلۡقَهَّارُ ﴿٣٩﴾

ای زما د زندان ملګرو! آیا ډیر او خواره واره خدایان غوره او بهتر دی که د الله تعالی واحد او برلاسی ذات؟

مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ
وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۚ أَمَرَ أَلَّا
تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يَعۡلَمُونَ ﴿٤٠﴾

هغه شیان چې تاسو او پلرونو نیکونو مو د الله تعالی په ځای د عبادت لپاره غوره کړی، صرف تش په نامه څو بې اثره او بې معنی بتان دی او الله تعالی (چې د هستئ د جهان د ټولو چارو صلاحیت او اختیار ورسره دی) هیڅکله د دغو بتانو د عبادت د تائید لپاره کوم حکم او مجوز نه دی نازل کړی. حقیقی واکمنی او اقتدار یوازې د الله تعالی ذات ته ځانګړی دی او حکم یې دادی چې د هغه له ذات نه غیر، د بل هیچا عبادت مه کوی. همدا دی ثابت دین او الهی قانون. خو زیاتره خلک( بیاهم په حقایقو) نه پوهیږی.

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسۡقِي رَبَّهُۥ خَمۡرٗاۖ وَأَمَّا ٱلۡأٓخَرُ
فَيُصۡلَبُ فَتَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِن رَّأۡسِهِۦۚ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ٱلَّذِي فِيهِ
تَسۡتَفۡتِيَانِ ﴿٤١﴾

ای زما د زندان ملګرو! ستاسو یو تن به( له زندان نه خلاصیږی) او د خپل بادار لپاره به د شرابو ساقی شی خو دا بل به په دار ځړیږی او مارغان به یې د سر په غوښو ټونګې وهی. دا ستاسو د خوبونو حقیقی تعبیر دی چې له ما څخه مو غوښتی و.

وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُۥ نَاجٍ مِّنْهُمَا ٱذْكُرْنِي عِندَ رَبِّكَ
فَأَنسَىٰهُ ٱلشَّيْطَٰنُ ذِكْرَ رَبِّهِۦ فَلَبِثَ فِي ٱلسِّجْنِ بِضْعَ
سِنِينَ ﴿٤٢﴾

**او (یوسف) هغه تن ته چې خلاصون یې ورته یقینی شوی و، وویل چې خپل بادارته زما د( بې ګناهۍ) یادونه هم وکړه خو( هغه د پادشاه په مجلس کې په داسې مزو چرچو سر شو چې)شیطان ورڅخه د یوسف مسأله هیره کړه او هغه تر کلونو کلونو په زندان کې پاتې شو.**

وَقَالَ ٱلْمَلِكُ إِنِّيٓ أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ
عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ ۖ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ
أَفْتُونِي فِي رُءْيَٰيَ إِن كُنتُمْ لِلرُّءْيَا تَعْبُرُونَ ﴿٤٣﴾

**او (د مصر) پادشاه (د خپل دربار مشرانو ته) وویل: په خوب کې مې اوه چاغې څاربې غواوې ولیدې چې اوه وچې خوارې غواوې یې په خوړلو بوختی دی. او بیا د غلو دانو اوه شنه تازه وږی او اوه نور وچ وږی هم په خوب کې وینم. ای زما د دربار مشرانو! که د خوبونو د تعبیر پوهه درسره وی نو د دغو خوبونو معنی راته بیان کړئ.**

قَالُوٓا۟ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ ٱلْأَحْلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾

**هغوی وویل: دا ناآرامه او ګډوډ خوبونه دی او مونږ د ګډو وډو خوبونو په معنی نه پوهیږو.**

وَقَالَ ٱلَّذِي نَجَا مِنْهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأْوِيلِهِۦ
فَأَرْسِلُونِ ﴿٤٥﴾

**او هغه آزاد شوی زندانی ته چې( اوس د دربار ساقی و، د پادشاه د خوب په اوریدو) ډیره موده پس ناڅاپه( یوسف) وریاد شو او ویې ویل: ماته( له زندانیانو سره د ملاقات)اجازه راکړئ، زه به مو د دغه خوب په تعبیر وپوهوم.**

يُوسُفُ أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ
سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ لَّعَلِّيٓ أَرْجِعُ إِلَى
ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٤٦﴾

**(په زندان کې يې يوسف ته وويل:) ای يوسفه، ای رښتيا ويونکيه! ( مونږ ته دا خوب) معنا کړه چې: اوه چاقې او څربه غواګانې دی چې اوه خوارې غواګانې يې خوری، او دغه راز اوه شنه وږی دی او اوه نور وچ وږی. ترڅو بيرته خلکو ته لاړ شم او( د دې عجيب خوب په تعبير يې) وپوهوم .**

قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدتُّمْ فَذَرُوهُ فِي سُنۢبُلِهِۦٓ إِلَّا قَلِيلًا
مِّمَّا تَأْكُلُونَ ﴿٤٧﴾

**(يوسف) ورته وويل: اوه کاله پرله پسې په ځمکه کې کرکيله وکړئ خو کله چې فصل وريبئ، څه لږه اندازه غله دانه ترې د خپل خوراک لپاره جلا کړئ او نوره په وږی کې پريږدئ( او ذخيره يې کړئ).**

ثُمَّ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا
تُحْصِنُونَ ﴿٤٨﴾

**له دی وروسته به اوه کاله پرله پسې وچکالی راشی چې د هغو په اوږدو کې به تاسو هماغه ذخيره کړی غله دانه وخورئ، خو څه برخه به بيا هم د راتلونکی کر لپاره وساتئ.**

ثُمَّ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ ٱلنَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴿٤٩﴾

**بيا به( له دغې وچکالئ او سوکړې نه وروسته) داسې کال راشی چې په خلکو به بارانونه وشی او له ميوو نه به شربتونه جوړ کړی.**

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦۖ فَلَمَّا جَآءَهُ ٱلرَّسُولُ قَالَ ٱرۡجِعۡ إِلَىٰ رَبِّكَ
فَسۡـَٔلۡهُ مَا بَالُ ٱلنِّسۡوَةِ ٱلَّٰتِي قَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّۚ إِنَّ رَبِّي بِكَيۡدِهِنَّ
عَلِيمٞ ﴿٥٠﴾

**او پادشاه( د خوب د تعبير په اوريدو) وويل دغه سړی ماته حاضر کړی. خو کله چې(د پادشاه) استازی( يوسف ته) ورغی، هغه ورته په ځواب کې وويل: بيرته دې بادار ته لاړ شه او د هغو ښځو د حال پوښتنه ترې وکړه چې خپل لاسونه يې پرې کړی وو. بيشکه چې زما رب د هغوی په مکر او فريب ډېر ښه پوهيده.**

قَالَ مَا خَطۡبُكُنَّ إِذۡ رَٰوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفۡسِهِۦۚ قُلۡنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا
عَلِمۡنَا عَلَيۡهِ مِن سُوٓءٖۚ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡـَٰٔنَ حَصۡحَصَ ٱلۡحَقُّ أَنَا۠
رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٥١﴾

**پادشاه ښځو ته وويل: ستاسو هغه کيسه څنګه وه چې له يوسف نه مو نفسی غوښتنه کړې وه. ښځو وويل: پاک دی د الله تعالی ذات. مونږ په هغه کې هيڅ بدی نه ده ليدلې. د عزيز ښځې وويل: اوس حق په پوره توګه څرګند دی، همدا زه وم چې له هغه نه مې شهوانی غوښتنه کړې وه، بيشکه چې يوسف يو رېښتينی شخصيت دی( زه د هغه په پاکۍ او خپله ګناه اعتراف کوم).**

ذَٰلِكَ لِيَعۡلَمَ أَنِّي لَمۡ أَخُنۡهُ بِٱلۡغَيۡبِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي كَيۡدَ ٱلۡخَآئِنِينَ ﴿٥٢﴾

**(يوسف وويل) دا پوښتنه مې د دې لپاره مطرح کړې وه، ترڅو پادشاه پوه شی چې ما د هغه په غياب کې، له هغه سره خيانت نه دی کړی او الله تعالی د خاينانو دسيسې او چلوټې هيڅکله هم د بری پړاو ته نه رسوی.**

۞ وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ
رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥٣﴾

**زه ( په ځان ستاينه) خپل نفس نه تبرئه کوم ځکه نفس،پرله پسې په ناوړو کارونو امر کوی،مګر هغه( نفس ترې مستثنی دی) چې زما رب وربانديې رحم وکړی. بې له شکه چې زما رب ډېر زيات ښښونکی او مهربان دی.**

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦٓ أَسۡتَخۡلِصۡهُ لِنَفۡسِيۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلۡيَوۡمَ
لَدَيۡنَا مَكِينٌ أَمِينٞ ٥٤

**پادشاه وویل: یوسف ماته راولئ ترڅو يې د خپل خاص مقرب په حيث وټاکم، نو کله چې( يوسف راغی) پادشا ورته د خبرو اترو په ترڅ کې وويل: نن ته زمونږ سره د لوړ او باور وړ مقام مستحق يې .**

قَالَ ٱجۡعَلۡنِي عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلۡأَرۡضِۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٞ ٥٥

**یوسف وویل: ما د هیواد د خزانو د سرپرست په حيث وټاکئ، زه به د هغو پوه او مسلکی ساتونکی يم.**

وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَتَبَوَّأُ مِنۡهَا حَيۡثُ يَشَآءُۚ نُصِيبُ
بِرَحۡمَتِنَا مَن نَّشَآءُۖ وَلَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٥٦

**او په دې توګه مو یوسف ته په دغه هیواد کې لوړه څوکې او مقام وروسپاره. هر ځای چې يې غوښتل اوسيدی شو. چاته چې مونږ وغواړو پخپل رحمت يې نازوو، او د نيکو کارانو اجر هيڅکله نه ضايع کوو.**

وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ٥٧

**او يقيناً د آخرت اجر د هغو کسانو لپاره ډير غوره دی چې ايمان يې راوړی او پرهيزګاران دی.**

وَجَآءَ إِخۡوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَعَرَفَهُمۡ وَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ٥٨

**او د یوسف ورونه( په کنعان باندې د وچکالۍ له امله، د غلو دانو د اخستلو لپاره مصر ته) راغلل. نو چې د یوسف دفتر ته ورننوتل، هغه خپل ورونه وپيژندل خو هغوی دی ونه پيژاند.**

وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمۡ قَالَ ٱئۡتُونِي بِأَخٖ لَّكُم مِّنۡ أَبِيكُمۡۚ أَلَا تَرَوۡنَ أَنِّيٓ
أُوفِي ٱلۡكَيۡلَ وَأَنَا۠ خَيۡرُ ٱلۡمُنزِلِينَ ٥٩

**( د غلې دانې د ويش مقررات داسې وو، چې هر سړی ته د اوښ يو بار ورکړی کيده، نو هغوی هيله وکړه چې زمونږ يو ورور د سپين ږيری پلار د خدمت لپاره پاتې شوی او برخه يې بايد مونږ ته راکړی شی. يوسف هغوی ته د غلو دانو څټې تيارې کړې،خو ورته يې سپارښتنه وکړه چې) خپل ميرنی ورور هم ماته راولئ( چې برخه يې ورکړم).آيا نه ګورئ چه ډکې ډکې پيمانې مې درکړې او ستاسو ښه ميلمه پالنه مې هم وکړه( خو له اصولو تيريدلی نشم نو که ربښتينی ياست راتلونکی ځل خپل ورور هم راولئ).**

فَإِن لَّمْ تَأْتُونِي بِهِۦ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِندِى وَلَا تَقْرَبُونِ ٦٠

**خو که يې را نه ولئ( نو داسې به وګڼم چې دروغ وايئ او په سزا کې به يې نه يوازې دا چې له غلې دانې محروم شئ بلکه ماته( يا د مصر خاورې ته د داخليدو حق مو) هم درنه سلب کيږي.**

قَالُوا۟ سَنُرَٰوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ ٦١

**هغوی وويل: ډيره هڅه به وکړو چې د هغه د راوستلو لپاره د پلار اجازه واخلو( او تاته اطمينان درکوو چې) مونږ به خپلې هلې ځلې ونه سپموو.**

وَقَالَ لِفِتْيَٰنِهِ ٱجْعَلُوا۟ بِضَٰعَتَهُمْ فِى رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَآ إِذَا
ٱنقَلَبُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ٦٢

**او( يوسف) خپلو کارګرانو ته وويل: د دوی هغه مال (چې  د غلې دانې د اخستلو لپاره يې درکړی) بيرته يې ورته  په څټو کې ورواچوئ، هيله ده چې خپلو کورنيو ته  د ستنيدو سره سم يې وپيژني او بيا هم راشي.**

فَلَمَّا رَجَعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَبِيهِمْ قَالُوا۟ يَٰٓأَبَانَا مُنِعَ مِنَّا ٱلْكَيْلُ فَأَرْسِلْ
مَعَنَآ أَخَانَا نَكْتَلْ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٦٣

**هغوی خپل پلار ته ور وګرځيدل، او ورته يې وويل: ای پلاره! نوره غله دانه په مونږ بنده شوه. زمونږ ورور له مونږ سره واستوه، ټول به (برخه برخه) غله واخلو او مطمئن اوسه چې مونږ به د هغه  پوره ساتنه کوو.**

قَالَ هَلْ ءَامَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمْ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبْلُ ۖ فَٱللَّهُ
خَيْرٌ حَٰفِظًا ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ٦٤

**( يعقوب)وويل: آيا هغسې اعتماد درباندې وکړم چې د هغه د ورور په باب مې درباندې کړی و؟( زه ستاسو په څارنه او ساتنه هيڅ باور نه لرم) تر ټولو غوره ساتونکی، الله تعالی دی او هغه تر هر چا زيات مهربان دی.**

وَلَمَّا فَتَحُوا۟ مَتَـٰعَهُمْ وَجَدُوا۟ بِضَـٰعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْ ۖ قَالُوا۟
يَـٰٓأَبَانَا مَا نَبْغِى ۖ هَـٰذِهِۦ بِضَـٰعَتُنَا رُدَّتْ إِلَيْنَا ۖ وَنَمِيرُ أَهْلَنَا وَنَحْفَظُ
أَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ ۖ ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ٦٥

**او کله چې يې خپل بارونه پرانستل، ګوری چې د دوی خپل مالونه( چې د غلو دانو د رانيولو لپاره يې وړی وو) هم پکې پراته دی، ويې ويل: ای پلاره: نور څه غواړو، دا دی زمونږ مالونه هم راته بيرته راستانه شوی، مونږ به( بيا له همدې مالونو سره) لاړ شو او د خپلې کورنۍ لپاره به غله دانه راوړو او د خپل ورور ساتنه به هم وکړو، او د اوښ يو بار غله دانه به نوره هم ترلاسه کړو. دا ښه اسانه ګټه ده.**

قَالَ لَنْ أُرْسِلَهُۥ مَعَكُمْ حَتَّىٰ تُؤْتُونِ مَوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ لَتَأْتُنَّنِى بِهِۦٓ إِلَّآ
أَن يُحَاطَ بِكُمْ ۖ فَلَمَّآ ءَاتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ٦٦

**پلار يې وويل: تر هغه يې درسره نه استوم ترڅو د الله پاک په نوم راسره ټينګ تعهد وکړئ چې هغه به بيرته ماته راولئ، خو که ټول محاصره او بنديان شوئ( هغه جلا خبره ده) نو کله چې (يعقوب) له هغوی نه تعهد واخست، ويې ويل: الله تعالی زمونږ په ټولو خبرو څارونکی دی.**

وَقَالَ يَـٰبَنِىَّ لَا تَدْخُلُوا۟ مِنۢ بَابٍ وَٰحِدٍ وَٱدْخُلُوا۟ مِنْ أَبْوَٰبٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ۖ وَمَآ
أُغْنِى عَنكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ ۖ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ
وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ٦٧

**او ويې ويل: ای ځامنو! ټول په يوه دروازه ( د مصر ښار ته) مه داخليږئ بلکه په بيلا بيلو دروازو ورننوزئ. البته زه تاسو د الله تعالی له مقدراتو نشم ژغورلی. حاکميت او صلاحيت يوازې د الله تعالی دی. يوازې په هغه توکل کوم او ټول توکل کوونکی بايد په هماغه ذات توکل وکړی.**

وَلَمَّا دَخَلُوا۟ مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُم مَّا كَانَ يُغْنِى عَنْهُم مِّنَ
ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ إِلَّا حَاجَةً فِى نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَىٰهَا ۚ وَإِنَّهُۥ لَذُو عِلْمٍ لِّمَا
عَلَّمْنَٰهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾

**او کله چې هغوی په هماغو لارو داخل شول چې پلار یې ورته لاربنوونه کړې وه،(احتیاطی تدبیر) د کومې الهی حادثې مخه نه شوه نیولی خو یوازې د یعقوب د زړه یوه هیله وه چې پوره یې کړه. بیشکه چې هغه زمونږ له خاصی پوهې نه برخمن و خو زیاتره خلک په دې حقیقت نه پوهیږی( چې په الله تعالی له توکل سره سره احتیاطی تدابیر هم ضروری دی).**

وَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَخَاهُ ۖ قَالَ إِنِّىٓ أَنَا۠ أَخُوكَ
فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٦٩﴾

**او کله چې یوسف ته ورغلل، هغه خپل (سکنی) ورور، خپل څنګ ته کیناوه او ورته یې وویل: زه ستا( هماغه ورک) ورور یم نو( د خپلو ورونو) په ناوړو کړو مه خواشینی کیږه.**

فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ ٱلسِّقَايَةَ فِى رَحْلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ
مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا ٱلْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَٰرِقُونَ ﴿٧٠﴾

**نو کله یې چې د هغوی لپاره د غلې دانې څټې تیارولی، د پادشاه جام یې د خپل ورور په بار کې کیښود او بیا یوه جارچی اعلان وکړ چې ای کاروانیانو تاسو خو غله یاست.**

قَالُوا۟ وَأَقْبَلُوا۟ عَلَيْهِم مَّاذَا تَفْقِدُونَ ﴿٧١﴾

**کاروانیان ورستانه شول او پوښتنه یې ترې وکړه: څه شی مو ورک دی؟**

قَالُوا۟ نَفْقِدُ صُوَاعَ ٱلْمَلِكِ وَلِمَن جَآءَ بِهِۦ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا۠ بِهِۦ
زَعِيمٌ ﴿٧٢﴾

**پیره دارانو وویل: د پادشاه پیمانه ورکه ده( او مشر یې وویل:) که څوک هغه راوړی د اوښ یو بار به په انعام کې ورکړم او زه په دغه خبره ضامن یم.**

قَالُوا۟ تَٱللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُم مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا كُنَّا
سَٰرِقِينَ ﴿٧٣﴾

**كاروانيانو وويل: په الله قسم، تاسو ښه پوهيږئ چې مونږ دې هيواد ته د فساد جوړولو لپاره نه يو راغلي او نه مو غلا کړې ده.**

قَالُوا۟ فَمَا جَزَٰٓؤُهُۥٓ إِن كُنتُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٧٤﴾

**موظفينو وويل: که تاسو دروغجن ثابت شئ( او غل ستاسو په ډله کې پيدا شئ) جزا به يې څه وي؟**

قَالُوا۟ جَزَٰٓؤُهُۥ مَن وُجِدَ فِى رَحْلِهِۦ فَهُوَ جَزَٰٓؤُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٥﴾

**هغوی وويل: د هر چا له څټې چې( جام) را وويستل شي، بايد هماغه سړی په غلامۍ کې ونيول شي. مونږ ظالمانو ته( په کنعان کې) دغه ډول سزا ورکوو.**

فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ أَخِيهِ ثُمَّ ٱسْتَخْرَجَهَا مِن وِعَآءِ أَخِيهِ ۚ
كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ ۖ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِى دِينِ ٱلْمَلِكِ إِلَّآ
أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ۗ وَفَوْقَ كُلِّ ذِى عِلْمٍ
عَلِيمٌ ﴿٧٦﴾

**نو(يوسف) د خپل ورور د څټې نه وړاندې، د نورو ورونو د بارونو پلټنه وکړه او بيا يې د خپل ورور له څټې جام راوويست. دغه زمونږ تدبير و چې يوسف ته مو ورزده کړ، که نه د( مصر) د پادشاه د قانون له مخې، هغه خپل ورور( بې ثبوته او بې وجې) نيولی نه شو، خو دا چې الله وغوښتل (نو د ورور د نيولو تدبير يې وروښود). هر چاته چې مونږ وغواړو لوړو مقامونو او درجو ته يې رسوو، او د هر لوی عالم نه پورته بل لوی عالم او پوهاند هم شته.**

۞ قَالُوٓاْ إِن يَسۡرِقۡ فَقَدۡ سَرَقَ أَخٞ لَّهُۥ مِن قَبۡلُۚ فَأَسَرَّهَا
يُوسُفُ فِي نَفۡسِهِۦ وَلَمۡ يُبۡدِهَا لَهُمۡۚ قَالَ أَنتُمۡ شَرّٞ مَّكَانٗاۖ
وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ٧٧

**ورونو وویل: که( دې هلک) غلا کړې وی( څه نا اشنا خبره نه ده ځکه) له ده نه وړاندې یې ورور هم غلا کړې وه. یوسف( د کرامت او ځوانمردۍ له مخې) دغه تومت په زړه وزغمه او راز یې بیان نه کړ. خو همدومره یې وویل: تاسو د ډیرې ټیټې درجې خلک یاست او څه چې وایئ الله تعالی ورباندې ډیر ښه پوه دی.**

قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ إِنَّ لَهُۥٓ أَبٗا شَيۡخٗا كَبِيرٗا فَخُذۡ أَحَدَنَا
مَكَانَهُۥٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٧٨

**هغوی وویل: ای عزیزه! دا هلک، سپین ږیری او عمر خوړلی پلار لری، نو د ده په ځای زمونږ یو( بل) تن په غلامۍ ونیسه، بیشکه چې مونږ تاته د یوه نیک شخصیت په حیث قایل یو.**

قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن نَّأۡخُذَ إِلَّا مَن وَجَدۡنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ إِنَّآ إِذٗا
لَّظَٰلِمُونَ ٧٩

**( یوسف) وویل: الله تعالی ته پناه وړم. مونږ به یوازې هغه تن نیسو چې خپل لوښی مو ورسره پیدا کړی( که بل څوک د هغه په ځای ونیسو) نو مونږ به ظالمان یو.**

فَلَمَّا ٱسۡتَيۡـَٔسُواْ مِنۡهُ خَلَصُواْ نَجِيّٗاۖ قَالَ كَبِيرُهُمۡ أَلَمۡ تَعۡلَمُوٓاْ
أَنَّ أَبَاكُمۡ قَدۡ أَخَذَ عَلَيۡكُم مَّوۡثِقٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَمِن قَبۡلُ مَا فَرَّطتُمۡ
فِي يُوسُفَۖ فَلَنۡ أَبۡرَحَ ٱلۡأَرۡضَ حَتَّىٰ يَأۡذَنَ لِيٓ أَبِيٓ أَوۡ يَحۡكُمَ ٱللَّهُ لِيۖ وَهُوَ
خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ٨٠

کله چې( ورونه) له عزیز نه نا امیده شول، په یوه ګوښه کی یې خپل منځی مشوره پیل کړه. مشر یې وویل: آیا نه پوهیږئ چې پلار مو درنه د الله تعالی په نوم تعهد اخستی او وړاندې مو هم د یوسف په حق کې زیاتی کړی. زه به تر هغه له دې خاورې ونه وځم چې یا مې پلار اجازه راکړی او یا د الله تعالی حکم راته راشی، بیشکه چې هغه تر ټولو ښه حکم کوونکی دی.

ٱرۡجِعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيكُمۡ فَقُولُواْ يَـٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبۡنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدۡنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمۡنَا وَمَا كُنَّا لِلۡغَيۡبِ حَـٰفِظِينَ ﴿٨١﴾

پلار ته مو ور وګرځئ او ورته ووایئ: ای زمونږ پلاره! زوی دې غلا وکړه، مونږ یوازې په هغه څه ګواه وو چې مونږ لیدلی خو د پټو اسرارو او غیبو ساتونکی او څارونکی نه وو.

وَسۡـَٔلِ ٱلۡقَرۡيَةَ ٱلَّتِي كُنَّا فِيهَا وَٱلۡعِيرَ ٱلَّتِيٓ أَقۡبَلۡنَا فِيهَاۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٨٢﴾

ته کولی شې له هغه ښاره چې مونږ پکې اوسیدو، او له هغه کاروان نه چې مونږ ورسره راغلی یو پوښتنه وکړې( او باور دې وشی چې) مونږ رښتینی یو.

قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ أَنفُسُكُمۡ أَمۡرٗاۖ فَصَبۡرٞ جَمِيلٌۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَأۡتِيَنِي بِهِمۡ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٨٣﴾

( ورونو کنعان ته په رسیدو ټوله پیښه پلار ته بیان کړه، خو هغه) وویل: ( نه داسې نه ده) بلکه خپلو نفسونو درته کوم لوی کار، په نظر کې آسان ښکاره کړی نو زما پرې صبر دی او صبر جمیل. هیله مې داده چې الله تعالی به هغوی ټول ماته راولی ځکه الله تعالی، زه په هغه څه پوهولی یم چې تاسو وړاندې نه پوهیږی.

وَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَـٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبۡيَضَّتۡ عَيۡنَاهُ مِنَ ٱلۡحُزۡنِ فَهُوَ كَظِيمٞ ﴿٨٤﴾

او له هغوی نه یو اړخ ته شو او ویې ویل: هی افسوس په یوسف. او له غمه یې د سترګو تور، سپین شول( د لیدلو قوت یې ورک) او زړه یې له غمه ډک شو.

قَالُواْ تَٱللَّهِ تَفۡتَؤُاْ تَذۡكُرُ يُوسُفَ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوۡ
تَكُونَ مِنَ ٱلۡهَٰلِكِينَ ﴿٨٥﴾

زامنو ورته وويل: په الله قسم چې یوسف له خولې، نه غورزوې، یا به خپل وجود خوار و زار کړې او یا به مړ شې.

قَالَ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا
تَعۡلَمُونَ ﴿٨٦﴾

یعقوب وویل: غم او درد مې یوازې الله تعالی ته بیانوم او د الله تعالی له لوری په هغه څه پوهیږم چې تاسو وربانده نه پوهیږی.

يَٰبَنِيَّ ٱذۡهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن رَّوۡحِ
ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٨٧﴾

ای زامنو! لاړ شئ او د یوسف او ورور لټه یې وکړی او د الله تعالی له رحمته مه مایوسه کیږی ځکه د الله تعالی له رحمته خو یوازې کافران نا امیده دی.

فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَيۡهِ قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهۡلَنَا ٱلضُّرُّ وَجِئۡنَا
بِبِضَٰعَةٖ مُّزۡجَىٰةٖ فَأَوۡفِ لَنَا ٱلۡكَيۡلَ وَتَصَدَّقۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَجۡزِي
ٱلۡمُتَصَدِّقِينَ ﴿٨٨﴾

نو کله چې یوسف ته ورغلل، ورته یې وویل:ای واکمنه! مونږ او کورنۍ مو ( د وچکالی او سوکړې له امله) په سختو کړاوونو اخته یو، اوس مو( د غلې دانې د رانیولو لپاره) څه نیمګړې سرمایه راوړې( خو هیله مو داده چې) ته به پرې مونږ ته پوره غله دانه راکړې او صدقه به راباندې وکړې ځکه الله تعالی صدقه کوونکو ته لوی اجر ورکوی.

قَالَ هَلۡ عَلِمۡتُم مَّا فَعَلۡتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذۡ أَنتُمۡ جَٰهِلُونَ ﴿٨٩﴾

هغه ورته وویل: آیا پوهیږی چې د خپلې ناپوهۍ په وخت کې مو، له یوسف او د هغه له ورور سره څه وکړل؟

قَالُوٓاْ أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُۖ قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِيۖ قَدۡ
مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَآۖ إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ
أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٩٠

هغوی وویل:(عجیبه اورو) آیا ته پخپله یوسف یې؟ هغه وویل: هو زه یوسف یم او دا مې ورور دی. الله تعالی په مونږ احسان کړی. بیشکه څوک چې د صبر او پرهیزګاری لاره غوره کړی( ښه اجر ورکړی کیږی) ځکه الله تعالی د نیکانو اجر، نه ضایع کوی.

قَالُواْ تَٱللَّهِ لَقَدۡ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَإِن كُنَّا
لَخَٰطِـِٔينَ ٩١

ورونو یې وویل: په الله قسم چې الله تعالی تاته په مونږ فضیلت درکړی او ریښتیا چې مونږ تیروتلی وو .

قَالَ لَا تَثۡرِيبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَۖ يَغۡفِرُ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ
ٱلرَّٰحِمِينَ ٩٢

یوسف وویل: نن په تاسو هیڅ ملامتی او پړه نشته، الله تعالی دې تاسو ته ښښنه وکړی او بیشکه چې هغه تر تولو زیات رحم کوونکی ذات دی.

ٱذۡهَبُواْ بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلۡقُوهُ عَلَىٰ وَجۡهِ أَبِي يَأۡتِ بَصِيرٗا
وَأۡتُونِي بِأَهۡلِكُمۡ أَجۡمَعِينَ ٩٣

( لاړ شئ) دا زما کمیس درسره یوسئ او زما د پلار په مخ یې وغورځوئ، بینا به شی او بیا سره د ټولې کورنۍ ماته راشئ.

وَلَمَّا فَصَلَتِ ٱلۡعِيرُ قَالَ أَبُوهُمۡ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَۖ
لَوۡلَآ أَن تُفَنِّدُونِ ٩٤

او کله چې کاروان( د مصر نه د کنعان په لور) وخوځید، پلار یې( خپلو حاضرو خپلوانو ته په کنعان کې) وویل: که مې(په بوډاتوب او اپلتو ویلو) نه تورنوئ، نو( باور وکړئ) د یوسف معطره وږمه راباندې لګیږی.

قَالُواْ تَاللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَٰلِكَ ٱلۡقَدِيمِ ﴿٩٥﴾

( کورنۍ یې) وویل: په الله قسم چې ته لا اوس هم پخپله پخوانۍ سرګردانۍ( او سودا) کې پروت یې.

فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلۡبَشِيرُ أَلۡقَىٰهُ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ فَٱرۡتَدَّ بَصِيرٗاۖ قَالَ أَلَمۡ أَقُل
لَّكُمۡ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٩٦﴾

نو کله چې زیری ورکوونکی راغی او کمیس یې د هغه په مخ وغوړاوه، په درنګ شیبه کی یې سترګې بینا شوې او ویې ویل:ما تاسو ته نه وو ویلی چې زه د الله تعالی له لوری په هغو حقایقو پوهیږم چې ستاسو ورباندې سر نه خلاصیږی.

قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا ٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَآ إِنَّا كُنَّا خَٰطِـِٔينَ ﴿٩٧﴾

زامنو یې وویل: ای پلاره زموږ د ګناهونو لپاره بښنه وغواړه، بیشکه چې موږ خطا کاران وو.

قَالَ سَوۡفَ أَسۡتَغۡفِرُ لَكُمۡ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾

(یعقوب) وویل: ډیر ژر به ستاسو لپاره له خپل رب نه بښنه وغواړم، بیشکه چې هغه ډیر زیات بښونکی او مهربان ذات دی.

فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيۡهِ أَبَوَيۡهِ وَقَالَ ٱدۡخُلُواْ مِصۡرَ
إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ ﴿٩٩﴾

( بالاخره یعقوب علیه السلام سره له خپلې کورنۍ له کنعان نه مصر ته ورسید او) چې کله د یوسف( د دفتر ماڼۍ )ته ورغلل، پلار او مور یې خپل څنګ ته کښینول او ویې ویل: تول د الله تعالی په فضل( په پوره ډاډ) او امنیت مصر ته ننوزئ( او پکې واوسیږئ).

وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى ٱلْعَرْشِ وَخَرُّواْ لَهُۥ سُجَّدًا ۖ وَقَالَ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا تَأْوِيلُ
رُءْيَٰىَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّى حَقًّا ۖ وَقَدْ أَحْسَنَ بِىٓ إِذْ أَخْرَجَنِى مِنَ
ٱلسِّجْنِ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلْبَدْوِ مِنۢ بَعْدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيْطَٰنُ بَيْنِى وَبَيْنَ
إِخْوَتِىٓ ۚ إِنَّ رَبِّى لَطِيفٌ لِّمَا يَشَآءُ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٠٠﴾

**او خپل پلار او مور يې په تخت کښينول او بيا ټول(١١ ورونړه او مور او پلار) هغه ته( د تعظيم) په سجده پريوتل.( يوسف) وويل: اى پلاره! دا زما د هغه پخوانى خوب تعبير دى چې زما رب رښتيا کړ، او په ما باندې يې دا احسان هم وکړ چې له زندان نه يې راخلاص کړم او تاسو يې له بيديا څخه راوستى، په داسې حال کې چې شيطان زما او زما د ورونړو ترمنځ بې اتفاقى او فتنه اچولې وه. بيشکه چې زما رب څنګه چې اراده کوى خپل اقدامات په ډيرو دقيقو او حساسو تدبيرونو سره عملى کوى، ځکه هغه په هر څه پوه او د حکمت څښتن ذات دى.**

۞ رَبِّ قَدْ ءَاتَيْتَنِى مِنَ ٱلْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِى مِن تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِ ۚ
فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَنتَ وَلِىِّۦ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ۖ تَوَفَّنِى
مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِى بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠١﴾

**اى زما ربه! تا ماته واکمنى راکړى او د خوبونو د تعبير( او د پيچلو مسايلو د مناسب حل و فصل) پوهه دې هم رازده کړې. اى د آسمانونو او ځمکې موجده او مبتکره! همدا ته مې په دنيا او آخرت کې سرپرست او مرستندوى يې.مرګ مې په داسې حال کې په نصيب کړه چې مسلمان او ستا احکامو ته تابع او منونکى يم او بيا مې له صالحينو سره ملګرى کړه.**

ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ۖ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ أَجْمَعُوٓاْ
أَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُونَ ﴿١٠٢﴾

**( اى محمده!) دا د غيبو( يو ګټور) داستان دى چې تاته د وحې په ترڅ کې بيانيږى، که نه، ته هغه وخت نه وې چې دوى ټولو په اتفاق سره( د يوسف په ضد) دسيسه جوړه کړې وه.**

وَمَآ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوۡ حَرَصۡتَ بِمُؤۡمِنِينَ ١٠٣

او که ته هر څو( د خلکو د  ایمان راوړلو) لیوال او هیله من یې خو بیاهم زیاتره خلک ایمان نه راوړی.

وَمَا تَسۡـَٔلُهُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٤

او ته( د قرآن د ابلاغ په مقابل کې) له دوی نه هیڅ اجوره او معاوضه هم نه غواړې، بلکه دا (قرآن) د ټولو نړیوالو لپاره پند او نصیحت دی.

وَكَأَيِّن مِّنۡ ءَايَةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ يَمُرُّونَ عَلَيۡهَا وَهُمۡ
عَنۡهَا مُعۡرِضُونَ ١٠٥

او( د خلکو د لارښوونې لپاره) په آسمانونو او ځمکه کې ډیرې زیاتې نښې نښانې شته چې دوی ورباندې تیریږی راتیریږی خو بیا هم ترې مخ اړوی.

وَمَا يُؤۡمِنُ أَكۡثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشۡرِكُونَ ١٠٦

او زیاتره یې په الله تعالی باندې ایمان لری خو داسې چې(په ربوبیت کې)ورسره شریکان هم غوره کوی.

أَفَأَمِنُوٓاْ أَن تَأۡتِيَهُمۡ غَٰشِيَةٞ مِّنۡ عَذَابِ ٱللَّهِ أَوۡ تَأۡتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغۡتَةٗ وَهُمۡ
لَا يَشۡعُرُونَ ١٠٧

که د الله تعالی هر اړخیز عذاب نازل شی او یا د دوی د اټکل او انتظار په خلاف ناڅاپه قیامت جوړ شی؟ نو آیا دوی خپل امنیت تضمینولی شی؟

قُلۡ هَٰذِهِۦ سَبِيلِيٓ أَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِيۖ وَسُبۡحَٰنَ
ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٠٨

( ای پیغمبره!) ورته ووایه: زما لار او طریقه داده چې زه او پیروان به مې په پوره بصیرت او پوهې سره، د الله تعالی لوری ته د خلکو د رابللو ستړې فریضې ته دوام ورکوو. او الله تعالی له هر عیب او نقص نه پاک او منزه دی او زه هیڅکله د مشرکانو له ډلې څخه نه یم.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰٓۗ
أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ
مِن قَبۡلِهِمۡۗ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٠٩﴾

او له تا نه وړاندې مو، داسې کسان د رسولانو په حیث له خپلې وحې سره ( د خلکو د لاربښوونې لپاره) استولی چې د خپلو مربوطو کلیو او ښارونو اوسیدونکی وو. آیا( د حق مخالفین) په ځمکه کې نه ګرځی او نه وینی چې پخوانی دروغجنان( چې د تکبر او عناد له مخې د حق په مقابل کې راپورته شوی وو) له څه ډول بد او ناوړه عاقبت سره مخ شول؟ او (هو، که دوی له عقل نه کار واخلی نو) د آخرت کور د هغو کسانو لپاره ډیر غوره دی چې له شرک نه ځانونه ساتی (او پرهیز ګاران دی).

حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ جَآءَهُمۡ
نَصۡرُنَا فَنُجِّيَ مَن نَّشَآءُۖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُنَا عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١١٠﴾

(پیغمبرانو، خلک د الله تعالی لوری ته رابلل خو بالاخره د زیاتره خلکو له ایمان راوړلو نه) پیغمبران هم مایوسه او نا امیده شول او ګومان یې کاوه چې( د مؤمنانو له خوا به هم) تکذیب شوی وی، په همدغسې حال کې زمونږ مرسته ورورسیده، چاته چې مو اراده وه نجات مو ورکړ خو له مجرمینو څخه زمونږ عذاب راګرځیدونکی نه و.

لَقَدۡ كَانَ فِي قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٞ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ مَا كَانَ حَدِيثٗا
يُفۡتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ
كُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿١١١﴾

رښتیا چې په دې واقعاتو او داستانونو کې د پوهې او بصیرت د خاوندانو لپاره د عبرت او پند درسونه پراته دی.( قرآن) څه په درواغو جوړې شوې خبرې نه دی بلکه هر څه پکې په تفصیل سره بیان شوی او د هغو آسمانی کتابونو تصدیق کوونکی دی چې له ده نه وړاندې تیرشوی. بیشکه چې( دا الهی کلام) د ایمان راوړونکو ولسونو لپاره د هدایت او رحمت ستره مرجع ده.

« تمت سورة يوسف بفضل الله و رحمته والحمد لله رب العالمين»

===================